بسم الله الرحمن الرحيم

# جریده میــــزان

د سترې محکمې کاري ځرګندويه خپرونه

د تأسيس کال ۱۴۴۳ هـ ق ۱۴۰۰ هـ ش

سه شنبه ۱۱ وږی ۱۴۰۴ هـ ش | ۹ ربيع الأول ۱۴۴۷ هـ ق | ۲ سپتامبر ۲۰۲۵ م | مسلسله شمېره (۱۰۹)

**د هستۍ نظام پر عدل ولاړ دی**

عادل خدای (جل جلاله) په سورة الرحمن کې فرمايي:
ژباړه: الله (جل جلاله) آسمان پورته کړی او تله يې اېښې ده، ترڅو تاسو په تله کې تېری ونه کړئ.
زياتره اسلاف له دې نه دا استنباط کوي، که په کائناتو کې د حق او عدل ساتنه ملحوظه نه وای نو د نړۍ، نړۍ والو او ټولو کائناتو دا ټول انتظام، ساتنه او انضباط سره ګډوډ کېده.

تفسير کابلی، ج ۲، ص ۱۳۰۳

## د سترې محکمې د حقوقو عمومي رياست له رئيس محترم مفتي محمد ابراهيم جان (أبوالحفاظ) صاحب سره د اسلامي عدالت ځانګړې خپرونه

د سترې محکمې د حقوقو عمومي رئيس محترم مفتي ابراهيم جان (ابوالحفاظ) صاحب، له هر څه وړاندې درته اسلامي عدالت خپرونې ته هرکلی وايو او ډېره مننه کوو چې له ډېرو بوختياوو سره سره مو موږ ته د دې خپرونې لپاره وخت راکړ.

مفتي محمد ابراهيم جان (ابوالحفاظ) صاحب: الحمد لله وکفی وسلام علی عباده الذين اصطفی اما بعد.

محترمه اول تاسو ته، ستاسو همکارانو ته او بيا د دې خپرونې ټولو لوستونکو او کتونکو ته د زړه له تله سلامونه او احترامات وړاندې کوم او له تاسو څخه مننه کوم چې موږ ته مو د ګډون دا فرصت برابر کړ.

**پوښتنه:** محترم مفتي صاحب په پيل کې که د اسلامي عدالت خپرونې لوستونکو ته د سترې محکمې د حقوقو عمومي رياست په اړه لنډ معلومات ورکړئ؟

**ځواب:** قدرمنه ستاسې د پوښتنې په ځواب کې بايد عرض وکړم چې د حقوقو عمومي رياست چې د سترې محکمې تر چتر لاندې فعاليت کوي په خپل تشکيل کابل ولايت کې رياست او نورو ۳۳ ولايتونو کې د حقوقو آمريتونه، د هېواد په ټولو ولسواليو کې د حقوقو مديريتونه لري.

د حقوقو عمومي رياست اړوند ټولې ماتحت ادارې په پيل کې هڅه کوي چې د عريضې تر ثبت او لازمي اقداماتو وروسته د هېوادوالو ترمنځ د اصلاح او جوړجاړي له لارې حقوقي مسايل او ستونزې د سولې له لارې حل او فصل کړي؛ خو که د قضيې ښکېل اړخونه د سولې پر ځای محکمه غواړي بيا موضوع ذی صلاح محکمې ته سپاري او ورسره هم مهاله د محاکمو د قطعي پرېکړو د تطبيق او تنفيذ وظيفه په غاړه لري.

**پوښتنه:** محترم مفتي صاحب د حقوقو عمومي رياست له عدليې وزارت څخه جلا او په ستره محکمه پورې وتړل شو، که زموږ لوستونکو ته د دغه اقدام د اړتيا په اړه ووایاست او تېرې څو کلنې تجربې ته په کتو دغه اقدام څومره ګټور ثابت شوی دی؟

**ځواب:** د اچې د حقوقو عمومي رياست او د هغه اړوند ادارو ډېر فعاليتونه لکه: د دعوو ارزونه، د اصلاح او جوړجاړي له لاري د حقوقي ستونزو او دعوو حل يا محکمې ته سپارل او د محکمو د قطعي فيصلو تطبيق مستقيماً له محاکمو سره تړلي دي؛ نو ځکه دا منطقي وه چې دا کار بايد شوی وای.

او له کوم وخت راهيسې چې د حقوقو عمومي رياست د مشرتابه محترم عالي مقام په حکم د عدليې وزارت له چوکاټ او تشکيل څخه راجلا په ستره محکمه پورې تړل شوی، د کارونو په چټک تصميم او ښه تنظيم کې د پخوا په پرتله بې‌ساري پرمختګ شوی او پر محاکمو هغه کاري تراکم په لويه کچه راکم شوی چې له امله به يې پرېکړې ځنډېدې او د حقوقو په ترلاسه کولو کې مراجعين له ستونزو سره مخ کېدل؛ بناءً ويلی شو چې په ټوله کې دا يو پرځای، سنجول شوی او ګټور اقدام و چې د هېواد د قضائي نظام لپاره په ګټه تمام شوی دی.

**پوښتنه:** د خپرونې په دې برخه کې که د سترې محکمې په تشکيل کې د حقوقو عمومي رياست د ارزښت په اړه معلومات راکړئ، ستاسو په نظر دغه رياست د سترې محکمې په تشکيل کې څومره مهم او اړين دی؟

**ځواب:** د سترې محکمې د حقوقوعمومي رياست د افغانستان اسلامي امارت سترې محکمې تر چتر لاندې يو مهم رياست دی، چې د هېوادوالو د حقوقو د خونديتوب لپاره کار کوي او د شرعي نظام په حاکميت او تطبيق کې مهم او رغنده رول لري.

**پوښتنه:** مفتي صاحب محترم په ټوله کې د حقوقو عمومي رياست عمده مسؤوليتونه څه دي او کومې مهمې دندې ترسره کوي؟

**ځواب:** د حقوقو عمومي رياست او د هېواد په کچه ورسره تړلې ادارې حقوقي دعوو ته رسېدنه کوي او تر ډېره بريده تجارتي، املاکي او فاميلي موضوعات د اصلاح او جوړ جاړي له لارې حل او فصل کوي، تر څو د خلکو حقوقي ستونزې بې له کوم ځنډه په سوله‌ييزه توګه هوارې وي او د محاکمو څخه د کار تراکم کچه کمه وي.

او که احياناً د حقوقو په اداره کې کومه ستونزه د جوړ جاړي له لارې حل نشي او قضائي حکم ته اړتيا رامنځته شي، د حقوقو اداره ورته دوسيه ترتيبوي او محاکمو ته يې د قضائي حکم لپاره لېږي. دغه راز د حقوقو ادارې د محاکمو د قطعي او نهائي فيصلو د تطبيق مسؤوليت هم پرغاړه لري.

**پوښتنه:** محترم مفتي صاحب که د اسلامي عدالت خپرونې مينوالو ته د حقوقو عمومي رياست د تشکيل په اړه معلومات راکړئ؟ آيا د حقوقو عمومي رياست په ټولو ولايتونو او ولسواليو کې فعاليت لري؟ که فعاليت لري د ولايتونو په کچه د دوی صلاحيتونه او عمده دندې څه دي؟ آيا د محاکمو د پرېکړو د تطبيق په موخه د حقوقو عمومي رياست څخه هدايت اخلي او که دوی خپله دا صلاحيت لري؟

**ځواب:** د حقوقو عمومي رياست په ټول هېواد کې فعاليت لري، د کابل ولايت لپاره د حقوقو رياست لري چې يواځې د همدې رياست تشکيل شاوخوا (۰۵۱) کسان دي او له کابل پرته د نورو ولايتونو په مراکزو کې د حقوقو آمريتونه لري، چې د هر ولايت نفوس او کاري تراکم ته په کتلو ورته مناسب تشکيل ورکړل شوی، دغه راز په هره رسمي ولسوالۍ کې د حقوقو مديريتونه پورتني مسؤوليتونه او فعاليتونه مخته وړي، چې هغه هم د هرې ولسوالۍ د کارونو د ډېرښت او کمښت په تناسب ورسره وړ تشکيل ور کړل شوی، چې ان شاء الله د مراجعينو مشکلاتو ته تر ډېره بريده بسنه کوي.

او د حقوقو د عمومي رياست اړوند ټولې ادارې خپل مسؤوليتونه په خپله سرته رسوي، که کومه ستونزه را منځته نشي، هغوی د خپل ترتيب او نظم او صلاحيت له مخې خپل فعاليت کوي، د محاکمو د پرېکړو په تطبيق او نورو روانو چارو کې د حقوقو د عمومي رياست هدايت ته په انتظار نه وي.

**پوښتنه:** محترم مفتي صاحب که د حقوقو عمومي رياست ته د دوسيو د راجع کولو او په دغه رياست کې دوسيو ته د رسېدنې بهير په اړه خلاصه معلومات راسره شريک کړئ؟

**ځواب:** د حقوقو د عمومي رياست تر چتر لاندې ټولو ادارو ته تر هرڅه وړاندې د مراجعينو لخوا د ستونزو د هوارې او د خپل حق د ترلاسه کولو په موخه حقوقي عرايض وړاندې کېږي، د حقوقو ادارې هغه عرايض چې پر شرايطو برابرې وي او ورسره مل اسناد ثبتوي، وروسته معروض عليه را جلبوي او بيا طرفينو ته استعلامونه ورکوي، تر څو يې د حق په ورکړه قانع کړي، که سره قانع نشي، ترمنځ يې جوړجاړی رامنځته کېږي او که طرفين د حقوقو د کارکوونکو يا نورو مصلحينو له لوري د صلحې په ترغيب خپل منځي ستونزه حل نه کړي، له دې وروسته يې دوسيه ترتيب او اړوند محکمې ته لېږل کېږي.

نو ويلای شو چې دوسيه د حقوقو له خوا محکمې ته لېږل کېږي، نه دا چې له محکمې يا بل ارګان څخه حقوقو ته وړاندې شي، البته حقوقي دوسيې د محاکمو له پرېکړو وروسته د تطبيق په موخه د حقوقو ادارو ته راځي او د محکمې د پرېکړې مطابق د حقوقو د ادارې له خوا تطبيق کېږي.

**پوښتنه:** مفتي صاحب که د دوسيې يو لوری د محکمې د پرېکړې تطبيق ته نه حاضرېږي، آيا حقوقو عمومي رياست د محکمې پرېکړه د دوی په نه موجوديت کې تطبيقوي او که څنګه؟

**ځواب:** کله چې دوسيه د حقوقو يوې ادارې ته د تطبيق په موخه رسېږي، د طرفينو په راغوښتلو سره محکوم عليه ته د محکمې د حکم د تطبيق ابلاغ کېږي، چې په خپله خوښه يې پر ځان تطبيق کړي، که احياناً محکوم عليه د محکمې له حکم څخه سرغړونه کوي يا د حقوقو ادارې ته نه حاضرېږي د درې جلبونو ورپسې لېږلو وروسته د هغه د منقولي او غير منقولي شتمنيو د راسپړلو او تثبيت اقدام کېږي، د محکوم عليه د يو ډول نه يو ډول شتمنيو د تثبيت وروسته د تطبيق هيئت له اړوند محکمې څخه د محکوم عليه د شتمنۍ د پلور جواز ترلاسه کوي او د هغه دغه شتمني د علني داوطلبي او مزايدې له لارې خرڅېږي او د محکوم له حق ترې ورکول کېږي.

**پوښتنه:** قدرمن مفتي صاحب د اسلامي عدالت خپرونې په وروستيو کې هېوادوالو ته څه پيغام لرئ؟

**ځواب:** هېوادوالو ته مې پيغام دادی چې لکه څنګه چې هر مسلمان د شريعت په ټولو احکامو مکلف دی، بيا په ځانګړې توګه په حقوق العباد کې، ځکه چې تېروتنه يې په اسانه نه بښل کېږي؛ نو بايد په اول قدم کې دوی خپله هره معامله د الله تعالی د رضا په خاطر پر شريعت برابره او د اسلامي اصولو سره سمه مخته يوسي، لکه څنګه چې قرآنکريم يې په اړه امر کوي چې که په پور راکړه ورکړه کوئ؛ نو ويې ليکئ او شاهدان ورباندې ونيسئ، يا يې په بدل کې يوشی په ګروی ونيسئ.

خو بياهم که يې کله کومه ستونزه مخته راځي د اسلامي نظام محاکم، د حقوقو عمومي رياست او د هېواد په کچه د حقوقو ټول کارکوونکي د دوی په خدمت کې نه ستړي کېدونکې هڅې کوي، پر هغوی د باور وکړي، د حاکم اسلامي نظام درناوی دې وکړي او له هڅو يې دې سالمه استفاده وکړي.

**په راشده خلافت دوره کې قضاء:**
**هغه مهم کارونه چې د ابوبکر ﵁ د خلافت په دوره کې ترسره شوي**
**اتمه برخه**

او ساتونکو ته يې امر وکړ، چې د مدينې شاوخوا وساتي؛ نو په داسې حال کې د دغه لښکر وتل له لويو مصالحو څخه و، نو لښکر هم حرکت وکړ، د عربو په هر کلي کې چې تېرېدل رعب به يې په کې خپور شو او ويل به يې: دا خلک له سخت مقاومت څخه وتلي دي؛ نو هلته يې ۴۰ او يا ۷۰ ورځې تېرې کړې، چې بيا روغ رمټ او د غنيمت څخه مالامال راغلل؛ له راستنېدو سره بېرته د مرتدينو او زکات نه ورکوونکو سره د جګړې په موخه مجهز او ولېږل شو.

اخذليک: تتمة النظام، ۵۸ صفحه، تأليف: قاضي القضات شيخ عبدالحکيم حقاني صاحب/ ژباړن:مولوي عبدالرحيم راشد

## محترم مولوی محمد یوسف (ابوالوفا) به حیث رئیس جدید محکمهٔ مرافعهٔ ولایت کندز معرفی شد

محترم مولوی محمد یوسف (ابوالوفا) به حیث رئیس جدید محکمهٔ مرافعهٔ ولایت کندز؛ طی یک نشست با حضورداشت مولوی عبدالمؤمن (حمید) رئیس دفتر مقام ولایت کندز، محترم مولوی نورمحمد (نوری) رئیس عمومی محکمهٔ مرافعه ولایت تخار، معاون ریاست استخبارات و مولوی محمد رحیم (ذوالفقار) آمر امنیت قوماندانی امنیه، رؤسای دواوین مرافعه، رئیس محکمهٔ ابتدائیهٔ شهری و رؤسای محاکم ولسوالی‌ها، اعضای قضائی، کارمندان اداری و خدماتی محاکم، به تاریخ ۲۴ /۲ /۱٤٤۷ هـ ق معرفی و آغاز به کارش نمود.

ابتداء جلسه با تلاوت چند آیات از کلام الله مجید توسط مولوی عبدالرحمن (رحمانی) عضو محرر دیوان تجارتی محکمهٔ مرافعه آغاز گردید؛ سپس مولوی محمد یعقوب (نوری) آمر دعوت و ارشاد محکمهٔ مرافعه با دلایل از آیات قرآنکریم و احادیث نبوی (صلی‌الله علیه وسلم) تقرر و تبدل را اصل دانسته و از خدمات خستگی ناپذیر محترم مولوی نورمحمد (نوری) رئیس قبلی محکمهٔ مرافعه یادآوری نمود.

در ادامه مولوی سراج الدین (حامدی) رئیس دیوان مدنی مرافعه، مولوی عبدالرحمن (مطمئن) رئیس محکمهٔ نظامی ولایت تخار و مولوی ذبیح الله آمر دعوت و ارشاد محکمهٔ مرافعهٔ تخار به نوبه شان عدالت را اساس ملک دانسته، خود و پرسونل محاکم را مکلف به تطبیق قوانین شرعی دانستند.

بعداً فورم پ۲ محترم مولوی محمدیوسف (ابوالوفا) مبنی بر تقرر شان به حیث رئیس محکمهٔ مرافعهٔ ولایت کندز، فورم پ۲ رؤسای محاکم ولسوالی‌های خان‌آباد، دشت ارچی، گل تپه و چهاردره، علی آباد، رئیس دیوان تجارتی محکمهٔ ابتدائیهٔ شهری، رئیس دیوان ترافیکی محکمهٔ شهری، مفتی دیوان مدنی محکمهٔ ابتدائیهٔ شهری، مفتی دیوان مدنی مرافعه و مفتی محکمهٔ ابتدائیهٔ ولسوالی دشت ارچی از طرف رئیس تحریرات محکمهٔ مرافعه به خوانش گرفته شد.

در اخیر رئیس جدید محکمهٔ مرافعهٔ کندز طی صحبت‌های شان تقرر و تبدل را یک اصل پذیرفته شده عنوان نمود گفت، پرسونل تحت اثر مکلفیت دارند؛ تا از اوامر آمر مربوطهٔ خویش اطاعت نمایند، در راه خدمت به مردم و جامعه از هیچ نوع سعی و تلاش دریغ نورزند، هدف از تقرر فقط و فقط خدمت به خلق الله است.

موصوف در رابطه به اطاعت تأکید نمود، همآهنگی میان ادارات را در راستایی بهبود امور مهم و لازمی دانست، مشوره را کلید حل مشکلات تلقی نمود، حاضرین را به قناعت ترغیب نمود و معاونیت پرسونل را در راه تأمین عدالت ممد و مؤثر خواند.

نشست با دعاء خیر توسط شیخ عبدالوارث (حقانی) مفتی دیوان تجارتی محکمهٔ مرافعه خاتمه یافت.

## د هېواد د نهه ولایتونو مرافعه محاکمو اداري کارکوونکو ته د ظرفیت لوړونې شپږ ورځنی روزنیز پروګرام پای ته ورسېد

د سترې محکمې د اجراآتو ارزونې او ظرفیت لوړونې ریاست لخوا د هېواد د نهه ولایتونو د مرافعه محاکمو اداري کارکوونکو ته جوړ شوی روزنیز پروګرام د پنجشنبې په ورځ ۲۷ /۲ /۱۴۴۷هـ ق نېټه پای ته ورسېد.

د یاد روزنیز پروګرام د اختتام په موخه جوړه شوې غونډه کې چې د قرآنکریم د مبارکو آیاتونو په تلاوت پیل شوه، د سترې محکمې د قضائي زده کړو عمومي ریاست رئیس محترم شیخ قیام الدین (قانت)، د اجراآتو ارزونې او ظرفیت لوړونې رئیس محترم حافظ نصیراحمد (صیاد) او د سترې محکمې یو شمېر نورو مسؤلینو او منسوبینو ګډون درلود.

د سترې محکمې د قضائي زده کړو عمومي رئیس د سیمینار ګډونوالو ته په وینا کې د مسؤولیت په اړه تفصیلي خبرې وکړې وویل، د اداري هر کارکوونکي ته که لوړتبه دي که ټیټ رتبه ورسپارل شوي مسؤولیتونه امانت دي؛ موږ یې باید په ډېر اخلاص ترسره او په دې برخه کې هېڅ ډول لټي او غفلت ونکړو.

محترم شیخ قانت صاحب د سیمینار ګډونوالو ته وویل، موږ او تاسو باید خپله د دندې یا مسؤولیت را سپارلو غوښتنه ونه کړو؛ بلکې را سپارل شوې دندې او مسؤولیتونه د اسلامي احکامو په رڼا کې ترسره کړو.

نوموړي زیاته کړه، هیله لرم چې له دې فرصت څخه په استفادې به مو د مدیریت، رهبری، پلان جوړونې، تدارکاتو، بودجې مصرف، وثایقو، د محاکمو د اداري سیستم مهارتونو، خبر جوړولو او نورو ضروري برخو کې نوي مهارتونه ترلاسه کړي او په خپلو ورځنیو چارو کې به ترې ګټوره استفاده وکړئ.

ورپسې د سترې محکمې د اجراآتو ارزونې او ظرفیت لوړونې رئیس محترم حافظ نصیراحمد (صیاد) د اداري چارو د ارزښت په اړه خبرې وکړې وویل، که تاسو اداري کارکوونکي خپلې چارې په مسلکي او اصولي ډول ترسره کړئ؛ نو د مراجعینو مشکلات به حل او له سرګردانی به خلاص وي، په دې کار به هم د الله تعالی رضا حاصله کړئ او هم به مو پر محاکمو د هېوادوالو باور زیات کړی وي.

د یادونې وړ ده چې په دغه روزنیز پروګرام کې چې د سترې محکمې د قضائي زده کړو عمومي ریاست کې جوړ شوی و؛ د پکتیا، غزني، لوګر، میدان وردګ، پکتیکا، خوست، پنجشېر، کاپیسا او پروان ولایتونو مرافعه محاکمو څه باندې (۱۹۰) اداري کارکوونکو ګډون کړی وو.

غونډه د پنجشېر ولایت د مرافعه محکمې د دعوت او ارشاد د آمر مولوي خلیل الرحمن صاحب لخوا د دعاء په ویلو پای ته ورسېده.

## حکم جزای تعزیری بالای (۷) مجرم و متهم در ولایت غور تطبیق شد

به اساس فیصلهٔ دیوان جزا محکمهٔ مرافعه و محکمهٔ ابتدائیهٔ ولسوالی ساغر ولایت غور، بالای هفت تن به شمول سه زن، به اتهام فعل زنا و جرم فرار از منزل، به تاریخ ۲/ ۳/ ۱۴۴۷ هـ ق در محضر عام حکم جزای تعزیری تطبیق گردید.

محاکم متذکره مجرمین و متهمین را از شش ماه الی دو سال حبس تنفیذی و ۳۰ الی ۳۹ دُره جزای تعزیری محکوم کرده بودند؛ که این فیصله بعد از تائید مقام عالی ستره محکمه تطبیق گردید.

حکم جزای تعزیری در استدیوم ورزشی این ولایت با حضور محترم شیخ عبدالکریم (صمیم) رئیس عمومی محکمهٔ مرافعه بالای مجرمین و متهمین تطبیق گردید.

## په لوګر ولایت کې دوو مجرمینو ته تعزیري سزا ورکړل شوه

د لوګر ولایت ازرې ولسوالی ابتدائیه محکمې د پرېکړې له مخې د یوې ښځې په ګډون دوو کسانو ته له کوره د تېښتې په جرم؛ د چهار شنبې په ورځ ۳/ ۳/ ۱۴۴۷ هـ ق نېټه په عام محضر کې تعزیري سزا ورکړل شوه.

ابتدائیه محکمې یاد کسان پر یو ـ یو کال تنفیذي بند او ۲۰ـ ۲۰ دُرو تعزیري سزا محکوم کړي وو؛ چې یاده پرېکړه د سترې محکمې عالي مقام له تائید وروسته پر مجرمینو تطبیق شوه.

د تعزیري سزا حکم د تطبیق په موخه جوړه شوې غونډه کې د یادې ابتدائیه محکمې رئیس شیخ ابومحمد اسرارالحق (رهنما) د حدودو په تطبیق تفصیلي خبرې وکړې.

د تعزیري سزا له تطبیق وروسته غونډه د دعاء په ویلو پای ته ورسېده.

## د پکتیا زون نظامي ابتدائیه محکمې لخوا شپږو متهمینو ته تعزیري سزا ورکړل شوه

د پکتیا زون نظامي ابتدائیه محکمې د پرېکړې له مخې شپږو کسانو ته چې پر لواطت او غلا متهم وو؛ په ۴/ ۳/ ۱۴۴۷هـ ق نېټه تعزیري سزا ورکړل شوه.

نظامي محکمې یاد کسان له یو کال څخه تر دربېو کالو پر تنفیذي بند او له ۲۰ څخه تر ۳۹ دُرو پر تعزیري سزا محکوم کړي وو؛ چې یاده پرېکړه د سترې محکمې عالي مقام له تائید وروسته پر متهمینو تطبیق شوه.

په دې موخه جوړه شوې غونډه کې د پکتیا زون نظامي ابتدائیه محکمې سرپرست رئیس مولوي عبدالحکیم (حکیمي)، د یاد ولایت مرافعه محکمې عمومي رئیس الحاج مفتي عبیدالله (خالد)، د زندانونو چارو رئیس قاري عبدالغني (عادل) او د یو شمېر امارتي ادارو مسؤولینو، مجاهدینو او عامو هېوادوالو ګډون درلود.

غونډه د تعزیري سزا له تطبیق وروسته د دعاء په ویلو پای ته ورسېده.

## حکم جزای تعزیری بالای دو متهم در ولایت فاریاب تطبیق شد

به اساس فیصلهٔ محکمهٔ ابتدائیهٔ دولت آباد ولایت فاریاب بالای دو تن به اتهام سرقت؛ به تاریخ ۲۹/ ۲/ ۱۴۴۷ هـ ق حکم جزای تعزیری تطبیق شد.

محکمهٔ ابتدائیه متهمین را به یک ـ یک سال حبس تنفیذی و ۳۶ـ ۳۶ دُره جزای تعزیری محکوم کرده بودند؛ که این فیصله بعد از تائید مقام عالي ستره محکمه بالای متهمین تطبیق شد.

این حکم محکمه در حضور رئیس محکمهٔ ابتدائیه، مفتی، علماء کرام ، مسؤولین ملکی، نظامی و جمع کثیری از مردم عام تطبیق شد.

## د کابل ولایت ښاري ابتدائیه محکمې اړوند څلورو زونونو په دوو اونیو کې (۹۵۰) دوسیو ته رسیدنه کړې ده

د کابل ولایت ښاري ابتدائیه محکمې اړوند څلورو زونونو په دوو اونیو کې له (۱/ ۲/ ۱۴۴۷هـ ق څخه تر ۱۵/ ۲/ ۱۴۴۷هـ ق نېټې) پورې په جزائي، حقوقي او تجارتي برخو کې (۹۵۰) دوسیو ته رسېدنه کړې ده؛ چې جزئیات یې په لاندې ډول دي.

**۱ - په جزائي برخه کې:**

د کابل ولایت ښاري ابتدائیه محکمې اړوند څلورو زونونو ته په دوو اونیو کې (۶۲۵) جزائي دوسیې واردې شوې؛ په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه د (۷۱) دوسیو په تړاو قضائي قرارونه صادر شوي، (۳۳۸) دوسیې فیصله شوې، (۶۸) دوسیې مکتوبي اجرا شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**۲. په حقوقي برخه کې:**

د کابل ولایت ښاري ابتدائیه محکمې اړوند څلورو زونونو ته په دوو اونیو کې (۲۱۸) حقوقي دوسیې واردې شوې؛ په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه د (۱۱۶) دوسیو په تړاو قضائي قرارونه صادر شوي، (۵۱) دوسیې فیصله شوې،(۴۲) دوسیې مکتوبي اجرا شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**۳. په تجارتي برخه کې:**

د کابل ولایت ښاري ابتدائیه محکمې اړوند څلورو زونونو ته په دوو اونیو کې (۲۰۲) تجارتي دوسیې واردې شوې؛ په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه د (۱۷۳) دوسیو په تړاو قضائي قرارونه صادر شوي، (۵۶) دوسیې فیصله شوې، (۳۵) دوسیې مکتوبي اجرا شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

## د بلخ ولایت محاکمو په دوو اونیو کې (۵۵۹) دوسیو ته پر رسېدنه سربېره، (۴۶۷) وثیقې هم اجرا کړې دي

د بلخ ولایت مرافعه، ښاري ابتدائیه، د بلخ زون نظامي، اختصاصي او د ټولو ولسوالیو ابتدائیه محاکمو په دوو اونیو کې (له ۱۵/ ۲/ ۱۴۴۷هـ ق څخه تر ۲۷ /۲ / ۱۴۴۷هـ ق نېټې) پورې (۵۵۹) دوسیو ته پر رسېدنه سربېره، (۴۶۷) وثیقې هم اجرا کړې دي؛ چې جزئیات یې په لاندې ډول دي.

**په حقوقي برخه کې:**

د بلخ ولایت محاکمو ته په دوو اونیو کې (۳۵۴) حقوقي دوسیې واردې شوې؛ په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې. له دې جملې څخه د (۲۰۴) دوسیو په اړه قضائي قراروونه صادر شوي، (۸۰) دوسیې فیصله شوې، (۵۱) دوسیې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**په جزائي برخه کې:**

د بلخ ولایت محاکمو ته په دوو اونیو کې (۱۶۷) جزائي دوسیې واردې شوې؛ په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې. له دې جملې څخه د (۱۰۰) دوسیو په اړه قضائي قراروونه صادر شوي، (۹۶) دوسیې فیصله شوې، (۲۸) دوسیې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**د وثیقو برخه کې:**

د بلخ ولایت محاکمو په دوو اونیو کې (۴۶۷) بېلابېلې وثیقې هم اجرا کړې دي.

## محاکم ولایت بغلان طی یک ماه علاوه بر رسیدگی به (۱۰۰۶ ) دوسیه، به تعداد (۴۸۸) قطعه وثایق نیز اجرا نموده‌است

خلاصهٔ اجراآت قضائی محاکم ولایت بغلان، دواوین مرافعه، وثایق، ابتدائیهٔ شهری و ابتدائیهٔ ولسوالی‌ها از تاریخ ( ۱/ ۲/ ۱۴۴۷هـ ق الی ۳۰/ ۲/ ۱۴۴۷هـ ق) در بخش‌های حقوقی، جزائی و وثایق به شرح ذیل می‌باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان یک ماه به تعداد (۷۹۶) دوسیهٔ حقوقی وارد محاکم گردیده؛ در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت. از آن جمله در رابطه به (۵۵۳) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۷۸) دوسیه فیصله شده، (۸۸) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه‌های باقی‌ماندهٔ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان یک ماه به تعداد (۳۲۰) دوسیهٔ جزائی وارد محاکم گردیده؛ در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت. از آن جمله در رابطه به (۱۸۸) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۶۴) دوسیه فیصله شده، (۳۵) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه‌های باقی‌ماندهٔ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان یک ماه در محاکم ولایت بغلان به تعداد (۴۸۸) قطعه وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده‌است.

## محاکم ولایت فاریاب طی دو هفته علاوه بر رسیدگی به (۵۱۸) دوسیه، به تعداد (۳۷۲) قطعه وثایق را نیز اجرا نموده‌است

خلاصهٔ اجراآت قضائی محاکم ولایت فاریاب، دواوین مرافعه، وثایق، ابتدائیهٔ شهری و ابتدائیهٔ ولسوالی‌ها از تاریخ (۱۵/ ۲/ ۱۴۴۷ هـ ق الی ۳۰/ ۲/ ۱۴۴۷ هـ ق) در بخش‌های حقوقی، جزائی و وثایق به شرح ذیل می‌باشد:

**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۲۴۰) دوسیهٔ جزائی وارد محاکم گردیده؛ در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت. از آن جمله در رابطه به (۹۰) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۸۶) دوسیه فیصله شده، (۷) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه‌های باقی‌ماندهٔ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۲۹۶) دوسیهٔ حقوقی وارد محاکم گردیده؛ در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت. از آن جمله در رابطه به (۲۳۶) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۹۰) دوسیه فیصله شده، (۹) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه‌های باقی‌ماندهٔ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان دو هفته در محاکم ولایت فاریاب به تعداد (۳۷۲) قطعه وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده‌است.

## محاکم ولایت جوزجان طی دو هفته علاوه بر رسیدگی به (۲۳۲) دوسیه، به تعداد (۱۴۶) قطعه وثایق را نیز اجرا نموده‌است

خلاصهٔ اجراآت قضائی محاکم ولایت جوزجان، دواوین مرافعه، وثایق، ابتدائیهٔ شهری، نظامی، اختصاصی و ابتدائیهٔ ولسوالی‌ها از تاریخ (۱۶/ ۲/ ۱۴۴۷ هـ ق الی ۳۰/ ۲/ ۱۴۴۷ هـ ق) در بخش‌های حقوقی، جزائی و وثایق به شرح ذیل می‌باشد:

**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۱۰۷) دوسیهٔ جزائی وارد محاکم گردیده؛ در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت. از آن جمله در رابطه به (۵۲) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۵۱) دوسیه فیصله شده، (۶) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه‌های باقی‌ماندهٔ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۱۷۶) دوسیهٔ حقوقی وارد محاکم گردیده؛ در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت. از آن جمله در رابطه به (۶۳) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۴۱) دوسیه فیصله شده، (۱۹) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه‌های باقی‌ماندهٔ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان دو هفته در محاکم ولایت جوزجان به تعداد (۱۴۶) قطعه وثایق نیز اجرا گردیده‌است.

## محاکم ولایت تخار طی یک ماه علاوه بر رسیدگی به (۶۸۹) دوسیه، به تعداد (۴۷۹) قطعه وثایق را نیز اجرا نموده‌است

خلاصهٔ اجراآت قضائی محاکم ولایت تخار، دواوین محکمهٔ مرافعه، وثایق، محکمهٔ ابتدائیهٔ شهری و محاکم ابتدائیهٔ ولسوالی‌ها از تاریخ ( ۱/ ۲/ ۱۴۴۷ هـ ق الی ۳۰/ ۲/ ۱۴۴۷ هـ ق) در بخش‌های حقوقی، جزائی و وثایق به شرح ذیل می‌باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان یک ماه در محاکم ولایت تخار به (۳۸۱) دوسیهٔ حقوقی رسیدگی صورت گرفته‌است. از آن جمله در رابطه به (۲۴۹) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۸۸) دوسیه فیصله شده، (۴۴) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه‌های باقی‌ماندهٔ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان یک ماه در محاکم ولایت تخار به (۳۰۸) دوسیهٔ جزائی رسیدگی صورت گرفته‌است. از آن جمله در رابطه به (۱۷۵) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۱۱۸) دوسیه فیصله شده، (۱۵) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه‌های باقی‌ماندهٔ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان یک ماه در محاکم ولایت تخار به تعداد (۴۷۹) قطعه وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده است.

## د خوست ولایت محاکمو په یوه میاشت کې (۳۹۴) دوسیو ته پر رسېدنه سربېره، (۳۵۸) وثیقې هم اجرا کړې دي

د خوست ولایت مرافعه، ښاري ابتدائیه، اختصاصي او د ټولو ولسوالیو ابتدائیه محاکمو په یوه میاشت کې له (۱/ ۲/ ۱۴۴۷هـ ق څخه تر ۳۰/ ۲/ ۱۴۴۷ هـ ق) نېټې پورې (۳۹۴) دوسیو ته رسېدنه کړې او (۳۵۸) وثیقې یې هم اجرا کړې دي؛ چې جزئیات یې په لاندې ډول دي.

**په حقوقي برخه کې:**

په حقوقي برخه کې د (۱۱۷) دوسیو په اړه قضائي قراروونه صادر شوي، (۷۷) دوسیې فیصله شوې، (۴۰) دوسیې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**په جزائي برخه کې:**

په جزائي برخه کې د (۲۴) دوسیو په اړه قضائي قراروونه صادر شوي، (۱۱۹) دوسیې فیصله شوې، (۱۷) دوسیې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**د وثیقو برخه کې:**

د خوست ولایت محاکمو په یوه میاشت کې (۳۵۸) بېلابېلې وثیقې هم اجرا کړې دي.

## د زابل ولایت محاکمو په دوو اونیو کې (۱۷۲ ) دوسیو ته پر رسېدنه سربېره، (۷۴) وثیقې هم اجرا کړې دي

د زابل ولایت د مرافعه، ښاري ابتدائیه، نظامي او د ټولو ولسوالیو ابتدائیه محاکمو په دوو اونیو کې له( ۱۶/ ۲/ ۱۴۴۷هـ ق څخه تر ۳۰/ ۲/ ۱۴۴۷هـ ق نېټې) پورې (۱۷۲) دوسیو ته پر رسېدنه سربېره، (۷۴) وثیقې هم اجرا کړې دي؛ چې جزئیات یې په لاندې ډول دي.

**په حقوقي برخه کې:**

په دوو اونیو کې (۱۴۳) حقوقي دوسیې محاکمو ته راجع شوې؛ په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې. له دې جملې څخه د (۵۰) دوسیو په اړه قضائي قراروونه صادر شوي، (۳۱) دوسیې فیصله شوې، (۲۰) دوسیې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**په جزائي برخه کې:**

په دوو اونیو کې (۷۸) جزائي دوسیې محاکمو ته راجع شوې؛ په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې. له دې جملې څخه د (۴۰) دوسیو په اړه قضائي قراروونه صادر شوي، (۲۹) دوسیې فیصله شوې، (۲) دوسیې مکتوبي مسترد شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**د وثیقو برخه کې:**

د زابل ولایت محاکمو په دوو اونیو کې (۷۴) بېلابېلې وثیقې هم اجرا کړې دي.

## په کندهار ولایت کې نیول شوي نشه‌یي توکي وسوځول شول

د کندهار ولایت ښاري ابتدائیه محکمې د پرېکړې له مخې نیول شوي نشه‌یي توکي چې مقدار یې (۱۳۳۳۳، ۸۷۸) کیلو گرامو ته رسېده؛ د ټاکل شوي پلاوي په شتون کې په ۲۶/ ۲/ ۱۴۴۷ هـ ق نېټه وسوځول شول.

په یادو نشه یي توکو کې ترياک، هیروئین، شیشه، چرس، تابلیت کا، د ترياکو دوا، اومان او یو شمېر نور نشه‌يي توکي شامل وو.

په یاد پلاوي کې د ښاري ابتدائیه محکمې، د ولایت مقام، د عامې روغتیا او امربالمعروف ریاستونو او د نشه يي توکو سره د مبارزې مدیریت استازوګډون درلود.

د یادونې وړ ده چې یاد نشه‌يي توکي د سپین بولدک ولسوالۍ او نشه يي توکو سره د مبارزې مدیریت په ډیپوګانو کې ضبط شوي وو؛ چې د مقدار له معلومولو وروسته د پلاوي په شتون کې وسوځول شول.

سرپرست مسؤول مدیر: مولوي عبدالرحیم (راشد)
اډیتور: جوادالله (جاهد)
ډیزاین: حمیدالله (راسخ)

د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې دغه خرګندويه خپرونه
په میاشت کې درې ځله چاپیږي

لا إله إلا الله محمد رسول الله

## د سترې محکمې د تدقیق او مطالعاتو عمومي ریاست اړوند قضائي تدقیق ریاست د روان ۱۴۴۷ هـ ق کال د صفرالمظفر میاشتې د فعالیتونو لنډ راپور

د سترې محکمې د تدقیق او مطالعاتو عمومي ریاست اړوند قضائي تدقیق ریاست د روان ۱۴۴۷هـ ق کال د صفرالمظفر میاشتې په جریان کې د (۱۰۰) بېلابېلو موضوعاتو په اړه تدقیقي نظریات ورکړي چې په دې کې (۷) د جزائي استهداآتو پر وړاندې تدقیقي نظریات، (۲) د تجارتي استهداآتو پر وړاندې تدقیقي نظریات، (۱۲) د مدني استهداآتو پر وړاندې تدقیقي نظریات، (۷) د وثایقو استهداآتو پر وړاندې تدقیقي نظریات، (۱۲) د متفرقو استهداآتو پر وړاندې تدقیقي نظریات، (۳۸) د قضائي تفتیش دګزارشونو په تړاو تدقیقي نظریات، (۱) د عارضینو د عرایضو پر وړاندې تدقیقي نظر، (۱۹) مکتوبي موضوعات او (۲) مستردي موضوعات شامل دي.

## په غزني ولایت کې دوو مجرمینو ته تعزیري سزا ورکړل شوه

د غزني ولایت جغتو ولسوالۍ ابتدائیه محکمې د پرېکړې له مخې د یوې ښځې په ګډون دوو کسانو ته د اخلاقي فساد په جرم؛ په ۲۷/ ۲/ ۱۴۴۷ هـ ق نېټه تعزیري سزا ورکړل شوه. ابتدائیه محکمې یاد مجرمین پر ۳- ۳ میاشتو تنفیذي بند او ۳۰- ۳۰ دُرو تعزیري سزا محکوم کړي وو؛ چې یاده پرېکړه د سترې محکمې عالي مقام له تائید وروسته پر مجرمینو تطبیق شوه.

## په کونړ ولایت کې د دوو کورنیو ترمنځ (۵۰) کلنه دښمني حل او پای ته ورسېده

د کونړ ولایت د دره پیچ ولسوالۍ ابتدائیه محکمې رئیس محترم مولوي محب الله (سلمان) په ډېرو هڅو؛ د یادې ولسوالۍ ولسوال او قومي مشرانو په منځګړیتوب، یوه لویه دښمني چې (۵۰) کاله مخکې په دغه ولایت کې د دوو کورنیو ترمنځ رامنځته شوې وه؛ په ۲۰/ ۲/ ۱۴۴۷هـ ق نېټه حل او پای ته ورسېده.

د یادې دښمنۍ د پای ته رسېدو او حل په موخه جوړه شوې غونډه کې د بېلابېلو ادارو رئیسانو او قومي سپینږیرو لنډې ویناوې وکړې.

د غونډې په دوام د ابتدائیه محکمې رئیس محترم مولوي محب الله (سلمان) د غونډې ګډونوالو ته د محکمې لخوا صادره شوې اصلاحي فیصله واوروله؛ جانبینو په دې فیصله رضایت او خوښي څرګند کړل او یاده دښمني په رسمي ډول پای ته ورسېده.

د سیمې قومي مشرانو او د ناستې ګډونوالو د محکمې او نورو امارتي ادارو له مسؤولینو خوښي څرګنده کړه او دوی ته یې د عزت او وقار پګړۍ ور په سر کړې.

## د کابل ولایت د نشه‌يي توکو او مسکراتو څخه د مخنیوي ابتدائیه محکمې لخوا (۹) مجرمینو ته تعزیري سزا ورکړل شوه

د کابل ولایت د نشه‌يي توکو او مسکراتو څخه د مخنیوي ابتدائیه محکمې د پرېکړې له مخې (۹) کسانو ته د نشه‌يي تابلیتو (ذیکپ او تابلیت کا) الکولي مشروباتو او چرسو د خرڅلاو او قاچاق په جرمونو، د یکشنبې په ورځ ۳۰/ ۲/ ۱۴۴۷ هـ ق نېټه تعزیري سزا ورکړل شوه. ابتدائیه محکمې یاد مجرمین له اوو میاشتو څخه تر دوو کالو او شپږو میاشتو پر تنفیذي بند او له ۱۰ څخه تر ۳۹ دُرو پر تعزیري سزا محکوم کړي وو. یاده پرېکړه د سترې محکمې عالي مقام له تائید وروسته پر مجرمینو تطبیق شوه.

## حکم جزای تعزیری بالای (۱۲) مجرم در ولایت پروان تطبیق شد

به اساس فیصلهٔ دیوان‌های جزا و امنیت عامهٔ محکمهٔ ابتدائیه ولایت پروان، به شمول دو زن بالای (۱۲) تن به اساس داشتن جرایم روابط نامشروع، استعمال و فروش مواد مخدر؛ به تاریخ ۱/ ۳/ ۱۴۴۷ هـ ق در محضر عام حکم جزای تعزیری تطبیق شد.


دیوان‌های محکمهٔ ابتدائیهٔ شهری مجرمین مذکور را از یک الی چهار سال حبس تنفیذی و از ۳۰ الی ۳۹ دُره جزای تعزیری محکوم کرده بودند؛ که این فیصله بعد از تائید مقام عالی ستره محکمه تطبیق شد.


گردهمائی که بخاطری تطبیق حکم جزای تعزیری راه اندازی شده بود، با تلاوت چند آیات از قرآن عظیم الشان آغاز شد؛ بعداً طبق آجندای مجلس مولوی عبدالهادی (دائی) مفتی محکمهٔ ابتدائیهٔ ولسوالی سیدخیل، مفتی عبدالولی (حلیم) رئیس دیوان جزاء مرافعه، مفتی عبدالولی (قاری‌زاده) رئیس شورای علماء پروان، مولوی نورالله (حماد) رئیس محکمهٔ ابتدائیهٔ شهری، قاری ضیاء الرحمن (جاوید) قوماندان امنیهٔ پروان به نوبهٔ خود پیرامون موضوعات حکم قصاص، تعزیرات و فواید جاری شدن حکم الهی که در جامعهٔ اسلامی تطبیق گردد، مفصلاً تقریر نمودند.


در ادامهٔ جلسه محترم مولوی میرآقا (ذبیح الله خالد) رئیس محکمهٔ مرافعه صحبت نمود گفت، در کشور اسلامی که حدود و تعزیرات الهی بالای مجرمین تطبیق گردد، جان، مال و ناموس مسلمانان در امان می‌باشد و نیز موجب خشنودی الله (جل جلاله) می‌گردد.

همچنان رئیس محکمهٔ مرافعه اضافه کرد، جزا های که در دین مبین اسلام به مجرمین تعین شده‌است، به خیر و فلاح مردم می‌باشد.

جلسه بعد از تطبیق حکم جزای تعزیری با دعاء خیر به پایان رسید.




## د سترې محکمې متحدالمآلونه

**د متحدالمآل ګڼه: ٦**

**نېټه: ۱۸/ ۲/ ۱۴۴۷ هـ ق**

د سترې محکمې د تمیزونو، ریاستونو او محکمو قدرمنو منسوبینو ته!

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

موضوع: تمیز ته د دوسیو د استولو په وخت کې د متهم یا مدعی علیه په اړه د معلوماتو لیکل.

د سترې محکمې محترم عالي مقام د حکم مطابق، د ټولو ولایتونو مرافعه محکمې دې تمیز ته د دوسیو د استولو په وخت کې په تحریري ډول واضح معلومات لیکي چې په موضوع کې متهم یا مدعی علیه بندي دی یا خلاص دی. بناءً یاد حکم د اصولي کړنو په موخه تاسو ته واستول شو.

میزان

د لیکوال پلاوي تر څارنې لاندې

پته: ستره محکمه، د بهرنیو، عامه اړیکو او مطبوعاتو ریاست

publications.sc۱٤٤۳@gmail.com

www.supremecourt.gov.af

د ټلیفون شمېرې: ۰۲۰۲۳۰۰۳۶۱
۰۲۰۲۳۰۲۲۶۳